تر ټولو غوره ذکر : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دی، او تر ټولو غوره دعا: الحمد لله ده

له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې : ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «تر ټولو غوره ذکر : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ دی، او تر ټولو غوره دعا: الحمد لله ده».

[حسن] [الترمذي او النسائي په الكبرى كې او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مونږ ته خبر راکوي چې تر ټولو ښه ذکر: "لا إله إلا الله" دی، معنا دا چې له الله پرته بل حقيقي معبود نشته، او غوره دعا الحمد لله ده؛ چې معنا يې اعتراف کول دي پر دې چې لوروونکی هماغه الله پاک دی، هغه ذات چې د ښايسته او پوره ستاينې وړ دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3567